


سیدرحم نیکمل د بریښنایی کمیټې (مسؤل)
پوهنمل اسد الله محمدي (غړی)
پو هنمل عبدالبصير ترابي (غړی)
محبت الله حسان د بریښنایی کمیټې (منشي)
نوماند پوهنیار نورالرحمن هاشمي
نوماند پوهنیار محمد خالد همدرد (غړی)
نوماند پوهنیار نورالرحمن هاشمي (غړی)
نوماند پوهنیار قدرت الله حبیبي (غړی)
سمیع الله ساحل (غړی)

## د پوهنتون لرلید او ماموریت

### لرلید (Vision)

وردګ پوهنتون به په ټول څواک او توان سره د ښوونې او څېړنې په برخه کې د هغو شرایطو او معیارونو د بشپړاوي لپاره هڅه کوي، چې په پایله کې یې د لوړو زده کړو د خدمتونو د تر سره کولو له لارې ټولنې ته د خدمت جوګه او د پام وړ مقام لاسته راوړي.

### ماموریت (Mission)

وردګ پوهنتون په خپل علمي او اکاډمیک بهیر کې د هېواد د نورو پوهنتونونو ترڅنګ د متخصصو کادرونو د روزلو مسؤلیت پر غاړه لري او د ټولنې د هوسایني او پرمختګ په موخه د معیاري زده کړو او با کیفیته خدمتونو په وړاندې کولو سره د نني عصر د غوښتنو پر بنسټ کادرونه روزي.

## د برېښنايي کمېټې لرلید او ماموریت

### لرلید (VISION)

د برېښنايي زده کړو کمېټه هڅه کوي چې د نوې ټکنالوژۍ او معاصرې زده کړې له لارې د محصلینو وړتیاوې لوړ کړي او د برېښنايي زده کړو په برخه کې نوښتونو ته لار هواره کړي، تر څو زموږ محصلین د ټکنالوژۍ په برخه کې د پرمختللو او وړ کسانو په توګه د هېواد په پراختیا کې برخه واخلي.

### ماموریت (Mission)

د برېښنايي زده‌کړو کمېټه په دې هڅه کې ده چې د محصلینو لپاره معیاري او پرمختللي ټکنالوژیکي زده‌کړې وړاندې کړي، تر څو هغوی د ټکنالوژۍ په برخه کې مسلکي مهارتونه ترلاسه کړي او د هېواد په پرمختګ کې خپل رول ولوبوي.

### هدف ( Goal):

د برېښنايي زده‌کړو په برخه کې د نوې ټکنالوژۍ سره سم د نصاب پراختیا، د محصلینو د مهارتونو لوړول په ملي او نړیوالو معیارونو برابرتحصلي چاپېریال رامنځته کول دي.